Deputy PM for Economic Affairs Office

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت

# د افغانستان اقتصادي پرمختگ

## (خبرپاڼه)

دويم کال - ۱۵ مه گڼه | پرله‌پسې ۲۹مه گڼه

نېټه: ۱۴۰۴/۴/۲۶



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعاليتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستيو اقتصادي فعاليتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې گڼه کې لولئ:

۱- د هرات-تورغونډۍ اوسپنې پټلۍ پروژه؛ د ترانزيټ او سوداګرۍ د پراختيا نوې هيله

۲- د بلخ-هرات او هرات-کندهار اوسپنې پټلۍ د پروژې څېړنې بشپړې شوې

۳- د بدخشان د خپلمنځي وصل هڅې؛ د ۱۲۰ کيلومتره سړک جوړولو چارې پيل شوې

## د هرات-تورغونډۍ اوسپنې پټلۍ پروژه؛ د ترانزيټ او سوداګرۍ د پراختيا نوې هيله



د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادراخوند د قزاقستان د لومړي وزير مرستيال او بهرنيو چارو وزير محترم مرات نورتليف سره د ۱۴۰۴ کال د سرطان مياشتې په ۱۹مه نېټه په ارګ کې وکتل.

په دغې ليدنه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ، ترانزيټ، اوسپنې پټلۍ، بانکي او اقتصادي همکاريو په اړه خبرې وشوې. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال وويل، اسلامي امارت له قزاقستان سره د هغو همکاريو د پراخېدو له پاره کارکوي چې د افغانستان د سوکالۍ او پرمختګ لامل ګرځي. د قزاقستان د لومړي وزير مرستيال او د بهرنيو چارو وزير مرات نورتليف وويل، د دواړو لورو ترمنځ په مختلفو برخو کې د ګډو همکاريو او نږدې کارزمينه برابره شوې ده او زياته يې کړه چې هېواد يې د هرات-تورغونډۍ اوسپنې پټلۍ پروژه کې د ۵۰۰ ميليون ډالرو په ارزښت پانګونې ته چمتو دی.

د يادي ليدنې پرمهال د افغانستان او قزاقستان ترمنځ د هرات-تورغونډۍ اوسپنې پټلۍ پروژه کې د قزاقستان د ۵۰۰ ميليون ډالرو په ارزښت د پانګونې تفاهم ليک هم لاسليک شو.

د هرات-تورغونډۍ اوسپنې پټلۍ پروژه د افغانستان له پاره يوه مهمه پروژه ده چې د هېواد ترانزيټي موقعيت څخه اغېزناکې استفادې ته زمينه برابروي. دا پروژه به افغانستان د اوسپنې پټلۍ له لارې له ترکمنستان، قزاقستان او ايران سره ونښلوي او د يادو هېوادونو ترمنځ به سوداګرۍ ته پراختيا ورکړي.

د اوسپنې پټلۍ دا پروژه به د قزاقستان او د منځنۍ اسيا نورو هېوادونو، چين، روسيې او اروپايي بازارونو ته د افغانستان د صادراتو له پاره اسانه او ارزانه لاره پرانيزي او ترڅنګ به يې افغانستان له هغو هېوادونو څخه په لږ لګښت او د ډېروخت په سپما سره واردات ولري.

دا پروژه د سيمې د اقتصادي نښلون له پاره مهمه پروژه ګڼل کېږي، چې د افغانستان په اقتصادي پرمختګ کې به مهم رول ولوبوي. د ملي عوايدو کچه به ورسره زياته شي، کاري فرصتونه به ايجاد او سيمه ييز اتصال به ورسره پياوړی شي.

## د بلخ-هرات او هرات-کندهار اوسپنې پټلۍ د پروژې څېړنې بشپړې شوې

اماراتي مسوولينو ويلي، د بلخ-هرات او هرات-کندهار اوسپنې پټلۍ د پروژې تخنيکي مطالعات بشپړ شوي دي.

د يادې پروژې د سروې او څېړنې چارې د ټولګټو وزارت له لوري بشپړې شوې چې له دې وروسته به د پروژې ډيزاين، پانګونې جلب او عملي کار په اړه هڅې وشي.

د دغې پروژې ټول اوږدوالی ۱۴۶۸ کيلومتره دی چې د هېواد له نهو ولايتونو څخه به تېره شي.

د پروژې موخه له منځنۍ اسيا، مرکزي اسيا او اروپايي هېوادونو سره د افغانستان نښلول دي. له دې پروژې سره به افغانستان د ايران او پاکستان له بندرونو سره ونښلي. سربېره پر دې، د

دې پروژې په بشپړېدو سره به د افغانستان له لارې د مسکو او نوي ډېلي ترمنځ د اتصال تر ټولو لنډه لاره رامنځته شي.



دغه پروژه د سیمې او نړۍ له بازارونو سره د افغانستان اقتصادي نښلون له پاره ډېره مهمه ده. د دغې پروژې په بشپړېدو سره به د افغانستان اقتصادي وده کې د پام وړ بدلون راشي. صادراتو او وارداتو کچه کې به د پام وړ بدلون راولي او په ټوله کې به د یادې پروژې له امله کاري فرصتونه ایجاد او د افغانستان د اقتصادي پرمختګ لامل وګرځي.

د اوسپنې پټلۍ د پروژو له پلي کېدا سره به افغانستان د سیمې د سوداګرۍ د مرکز په توګه رول ولوبوي.

## د بدخشان د خپلمنځي وصل هڅې؛ د ۱۲۰ کیلومتره سړک جوړولو چارې پیل شوې

امارتي مسوولینو ویلي، د بدخشان د لوی پامیر په سخت ګذر سیمه کې یې د ۱۲۰ کیلومتره سړک د جوړولو چارې رسماً پیل کړې دي.

دغه سړک چې له ګازخان څخه تر پامیر کلنیک پورې ۱۲۰ کیلومتره اوږدوالی او شپږ متره سورلري، د ملي دفاع وزارت د انجینرۍ فوق العاده لوا مدیریت له لوري جوړېږي، چې څلورو میاشتو کې به یې د جغل اچولو چارې بشپړې شي.

د دې سړک په بشپړېدو سره به د سیمې لسګونه کورنیو ته د تګ راتګ اسانتیاوې برابرې او د بدخشان له نورو سیمو سره به په اسانه ډول وصل شي. دغه سړک به بدخشان له نورو ګاونډیو ولایتونو سره هم ونښلوي. د دې ترڅنګ به د سیمې اوسېدونکي روغتیایي، ښوونیزو او مخابراتي اسانتیاوو ته لا ډېر لاسرسی پیداکړي.

بدخشان په ترانسپورتي لحاظ یو پرمختللی ولایت نه دی او په تېر کې د بدخشان پراختیا ته کافي توجه نه وه شوې. اسلامي امارت د هېواد اقتصادي پرمختګ ته ژمن دی او غواړي چې ټول افغانستان کې ترانسپورتي شبکې پراختیا ومومي. د ترانسپورتي شبکو له پراختیا سره به د یاد ولایت سوداګریزې اړیکې پراخه شي، کاري فرصتونه به ایجاد او هېوادوال به له ګڼو ستونزو څخه خلاص شي.

